مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۴/۲۸

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## ۳۵مه برخه

## لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۷۵مه برخه

په لنډيو پسي د بېلابېلو پټو لټول مې له هغه وخته راپيل کړل چې ځينو درنو لوستونکو ته د لنډيو د راټولو په باب پوښتني رامنځته شوي چې دا لنډۍ زه له کومه کوم. سره له دې چې دا موضوع ما پخوا هم روښانه کړې وه، خو اوس يې يوځل بيا په تکرار سره وايم چې:

ما د بېلابېلو منابعو په لړ کې، د ګڼو داسې ويدوګانو ليدلو ته وخت بېل کړ چې په هغو کې سندرغاړو د خپلو سندرو په هرځ کې دا لنډۍ زمزمه کړې دي. د همدې کار د پايلي ځو برخي راټولي کړې لنډۍ مې په ځو برخو کې د ويديوګانو د لينکنو په ملتيا خپرې کړې او دا لړۍ نوره هم غځيږي. دا لاندې يې يوه بله برخه ده:

**سترګې دې بې‌تاثيره نه‌دي**
**لکه د کوډو مرۍ برګې، برګې‌دينه**

**د دوډۍ وږي به ماړه کړم**
**د دوډۍ وږي دې ماښام ته وګورينه**

په يوه بله ويديو کې چې دوې‌دقيقې او پنځه ثانيې ده ښاغلی شمس او دوه تنه نور سندغاړي په وار سره د سوال ـ ځواب په ډول لنډۍ زمزمه کوي او ما دا پاسنۍ لنډۍ ورنه راخوندي کړې. دا يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/2728143707536037

**د ښارياري له دوکوډکه**
**موږکليوال خپلي‌وفا خوړلي‌يونه**

**نه به انځر د ورځې ګلشي**
**نه به اشنا دوباره راوړي ديدنونه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**کلکه ولاړه په وفایم**
**موسم خو نه یم چې رنګونه بدلومه**

**کله به بیا سره یوځای شو**
**چې ډکې سترګې په ګیله درواړومه**

**چا ته مې څه‌بد رسولي**
**ستا په تهمت مې خلک کلي نه شړینه**

**د نازولې‌نجلۍ پلاره**
**چې دومره ښکلې‌لور لرې، نوکر دې یمه**

**یوه مې ښه‌تجربه وکړه**
**د چا چې ډېرقدرکوم، دوښمن مې شینه**

**څنګه نرۍ‌خندا دې وکړه**
**څنګه په ډک زړه مې دروژړل مئینه**

**مخ دې کابل، سترګې دې خوست دي**
**دا تور ویښته دې د ځدرانو غرونه‌دینه**

**ای پېښوره څه‌چل‌وشو**
**اوس دې ګلونه د باروتو بوی‌کوینه**

**کډه زموږ کلي ته راوړه**
**په غم ښادۍ کې به مو کېږي دیدنونه**

دا لنډۍ مې له داسې یوې ویډیو نه راواخیستې چې ښاغلي صدیق ننګ د خپلې دایمې فرهنګي مرستو په لړکې رالېږلې وه. ویډیو یولس‌دقیقې او درې‌څلویښت‌ثانیې وه، سندرغاړی مې ونه‌پېژاند، خو ښه په ترنم سره یې لنډۍ زمزمه کولې، دا لاندې یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1390318539419172

**چې چېرته سره لوېته وینم**
**یوه‌شېبه منډه د زړه پسې وهمه**

**په حال مې غرونه په ژړا دي**
**ښښه یې دا ده چې سیندونه ترې‌راځینه**

**که ژاړم، ژاړم زه به ژاړم**
**خواږه دوستان مې په وطن کې پاتې‌دینه**

دا لنډۍ له داسې یوې ویډیو نه راولیکل شوې چې یو تن لنډۍ د یوې باجې، دوګړې او رباب په ملتیا په درز کې زمزمه کوي او په ویډیو کې ښکاري چې ډوډۍ تیاربېږي او خلک په یوه دسترخوان راټول او خوري یې. دا یې لینک دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

https://www.facebook.com/reel/1195102426132890

**مرګیه لرې رانه ګرځه**
**ژبه مې مه‌تړه وطن پرې یادومه**

**نصیب زما و که د تا و**
**په اور دې وسېځې د دواړو نصیبونه**

**خبره لاړه ډنډوره‌شوه**
**جانانه خپل کار دې کوه، خپل به کومه**

**نصیب زما درسره نه شته**
**خوشې عبث په زیارتو مه‌کړه سوالونه**

**قبر خو ښه دی دمه‌ځای دی**
**کابل خو نه دی چې ترې کډه باروومه**

**مرګی خو سته، یوورځ به تول مرو**
**داسې دې مړه شو چې ژوندي مو یادوینه**

**خدای مودې هغه مرګ نه ساتي**
**چې مو له مړي نه ژوندي نفرت کوینه**

دا لنډۍ مې د عبدالله مقري له یوه داسې ژوندي پروګرامه راخوندي کړې دي چې د اختر په مناسبت جوړ شوی و، مقری پر ستیژ باندې ناست سندرې وایي او لاندې خلک مستاتڼ ورته کوي. ویدیو لس‌دقیقې او څلورپنځوس‌ثانیې اوږده ده. دا لاندې یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1566630951052258

**یاري خو تا کړه ما خو نه‌کړه**
**چې نیمایي کې‌ی پرې کوې ژړا راځینه**

**خوله دې منه، زنه دې ام ده**
**دا مې قسم ده چې هدوکي به دې خورمه**

**جلې چې لویه سي ګلزار سي**
**هلک چې لوی سي مزاری‌ختکی سینه**

**چې یو اخلاص او بل لباس شي**
**دا لباسي اشنا دې خدای وشرموینه**

**یوه دې نه ده، دوې دې نه دي**
**کوم غلطي باندې دې سترګې پټې کړمه**

**خولګی دې خورم، نه پرې مړېږم**
**ظالمې تولـه راپـه‌شاشه چې دې ورمـه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**ته مې په ګوته کې غمی سه**
**خلک به وايي يار په ګوته ګرځوينه**

دا لنډۍ مې له داسې يوې ويډيو نه راخپلې کړې چې د ځوانانو په يوه بنډار کې دوه تنه سندرغاړي د سوال ځواب په ډول د موزيک په ملتيا لنډۍ زمزمه کوي، سندرغاړي زما لهپاره ناپېژاند وو. ويډيو ځلور دقيقې او شلثانيې ده، دا لاندې يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/1256835153068458

**د سعودي باچا ته وايه**
**تا له زلمي له بېوسی درغليدينه**

**د سعودي باچا ته وايه**
**په پښتنو باندې ونهکوې ظلمونه**

**خدايه د تېلو کوهيان وچکړې**
**په شتو زلمو کې پېغلې کونډې ناستيدينه**

په ټولنيزهميډيا کې ځينې ويډيوګانې په مخه راځې چې د اعظمخان په نامه يو تن ارمونيم ته ناست وي او داسې سوې لنډۍ له ارمونيم او يو عادي ضرب سره زمزمه کوي چې ډېرځلې عربي هېوادونو ته په مزدورۍ پسې د تللو زلميانو ژوند په کې انځور شوی وي، دا پاسنۍ لنډۍ يې ډېرې ښې ښېلګې دي. دا ويډو يوهدقيقه او ديارلسثانيې ده او دا لاندې يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/1630633108178071

**زړه مې ماهی دی په درياب کې**
**غمخور يې نهشته چې جاله ورواچوينه**

**مخ دې بېخاله ښايسته دی**
**که دې خال کېښود، ما به ورکګړې له وطنه**

**خالونه ټوله امران دي**
**د زنيخاله نوکري به دې کومه**

**عالمه واوريه، غوږ نيسئ**
**د يار ښېلتون مې لکه ناوې ژړوينه**

دا پاسنۍ لنډۍ مې په يوه عجيبه ويډيو کې وموندلې. دوه تنه په غبرګو اوازونو کې د ژونديي موزيک په ملتيا لنډۍ زمزمه کوي. د څو لنډيو تر زمزمې وروسته د پيل لنډۍ:

**زړه مې ماهی دی په درياب کې**
**غمخور يې نهشته چې جاله ورواچوينه**

لکه «سروکی» په ګډه بيا تکراروي. موزيک يې يوازې يوه دايره، رباب او ارمونيم دی. پر سکرين باندې د ليکل شوو معلوماتو له مخې د سندرغاړو نومونه سيفالدين او ملګري ليکل شوي او د «اولسي باندار سندره» نومول شوي ده. دا لاندې يې لينک دی:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

https://www.facebook.com/reel/2160377538109154

په ټولنيزه‌میډیا کې له داسې يوې ويډيو سره مخ‌شوم چې پخوا په دې ډول ما څه نه وو ليدلي. په ويډيو کې دوه ملګري سره ناست دي او د سوال ځواب په ډول لنډۍ وايي. ټوله ویډیو یوه‌دقیقه او نهه‌پنځوس‌ثانيې ده. ما دا لاندې لنډۍ ورنه راغوره کړې دي. د ويډيو لينک د راغوره شويو لنډيو په پای کې اېښودل شوی دی:

**آ چې مېئن درباندې نه‌يم**
**ولې مې اوښکې له ملالو سترګو ځينه**

**د دې ټپې ځواب مې راکه**
**کور مې د سين پرغاړه دی، له تندې مرمه**

**د دې ټپې ځواب دې دا دی**
**مېئن پرې ډېر يې، ديدن لږ، لږ درکوينه**

**پرون مې پېره کړلې شيرينې**
**نن دې زما مخې ته رېبږدي اندامونه**

**مغروره نه‌يمه جانانه**
**چې درنه لارې بدلوم، مجبور به يمه**

**پېر به دې کړم، پېره به مې نه‌کړې**
**مــا د سنـدرو سپـارې لـوستلـې‌دينـه**

**ته په څلور مذهبه پېر يې**
**ما په يوه مذهب کې پېر که، درنه ځمه**

**په قد کې دواړه سره سمېو**
**په تام جګ د ګوړګوټو څنو سرونه**

**زه د شوګيروشپو عادت يم**
**په تا څه شوي دي چې نه‌کوې خوبونه**

**څنګه به بله ياري وکړم**
**زه خو اولې‌يارۍ ماتکړم په هډونه**

**ما ته پرېکړی‌ځواب راکړه**
**زه دې له بلې‌يارانې ويستلی‌يمه**

**ما درته وې، له ما نه مه‌ځه**
**ما نه که لاړې، زه خو هېڅوک نه‌لرمه**

**بېګا مې پلار په کور کې يادکړې**
**زه ترګهيځه پورې خوب کې غږېدمه**

**پردو ودونو ته ګډېږې**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**خپله لیلا دې د واده په تمه مرینه**

**زما به څرنګه هېرېږي**
**چې ته یې ویشتې، پر دېوال ولاړه‌ومه**

**تا چې لیدم، هغسې نه‌یم**
**اوس په لګېره د تنورغاړې ته څمه**

https://www.facebook.com/reel/706188878915453

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ